طنزونه



# عشقي پيوند

عزيز نسين

ژباړن: احمد سمون شريفي

www.sikaraam.com

# عشقي پيوند

**ليكوال:** عزيز نسين

**ژباړن:** احمد سمون شريفي

**۲۰۲۵**

SIKARAAM


**د کتاب نوم:** عشقي پیوند

**لیکوال:** عزیز نسین

**ژباړن:** احمد سمون شریفي

**کمپوز او ډیزاین:** احمد سمون شریفي

**خپرندوی:** سیکارام خپرندویه ټولنه – www.sikaraam.com

**د خپرونو لړ:** ۲

**د خپرېدو نېټه:** ۲۰۲۵-۰۴-۱۲



**دغه کتاب هر ځای او هر څوک چاپ او انلاین خپرولی شي خو په دې شرط چې تغیر پکې رانه وړي او د سیکارام او ژباړن یادونه پکې وکړي.**

# ډالۍ

## پلار ته مې!

# لړلیک


۱. د سریزې په پلمه / ۲

۲. عشقي پیوند / ۷

۳. خوراکي رژیم / ۱۱

٤. لار وهونکی / ۱۷

٥. له خپلو لیونیو مو مه کړې! / ۲٤

٦. لومړنۍ میرمنه چې زه یې درک کړم / ۳۷

۷. یوه ورځ به زموږ وار شي / ٤٥

۸. دغه غژیدلی ربړ کله لیکوال ته ورته دی؟ / ٤۸

# د سریزې په پلمه

او د لوی ښځتن په سپېڅلې نامه،

عزیز نســین نه یوازې د ترکیې او ترکي ژبې غوره طنز لیکوونکی تېر شــوی، بلکې هغه یو چپي او انسان دوست شخصیت هم و، چې په لیکنو کې یې له انسان سره مینه له ورایه څرګندیږي.

څه موده وړاندې مې له ســهاند صــاحب‌دیواني، نومي لیکوال سره وپېژندل. سهاند د خپلې نوې ځوانۍ پر مهال استانبول کې له عزیز نسین سره لیدلي دي او هغه د عزیز نسین په هکله داسې لیکلي دي:

نسین ساده ژوند درلود، یو روڼ اندی، چټک تلونکی او تیاتر جوړونکی و. له چپیانو سره یې خورا مینه وه، د یوې کوڅې کونج کې څو ځوانکیو راګیر کړ، ورته وېې ویل: زموږ محلي کمونیســتي ورځپاڼه راڅخه وپېره! نســین له څو خبرو اترو وروسته ترې ورځپاڼه واخیسته خو وروسته یې راته وویل چې دا احمقان دي، لس یورو! دومره پیســې د کارګرې طبقې د وس نه دي. په اصــل کې یې ځان ښــوده، ځکه عزیز نسین ته د ارزانه خوړنځایونو هر ګوټ ور معلوم و. ما ترې وپو ښتل: بیا دې ولې ترې وپېرله؟ هغه ځواب راکړ: دغو تاندو ځوانانو لا ایډیالان لرل، نه مې غوښتل نهیلي شي.

## عزیز نسین څوک و؟

اصل نوم یې محمد نصـرت (Mehmet Nusret) دی، لوی ترکی لیکوال تېر شوی چې علوي دی خو خپله یو سیکولر شخص و. د محمد نصــــرت د پلار نوم عزیز نسین و، له دې امله چې نصرت نسین وړوکی و او په خپل نوم یې طنزونه او

لنډې کیســې ورځپاڼو ته نه شــول لیږلی نو د پلار له نوم یې ګټه اخیســتله. خپله وایي: دغه نوم داسې راباندې پوخ شو چې زما پلار به چا ته وویل: (زه عزیز نسین یم) نو هیچا به نه منله. په نصـــرت نسین باندې همدا نوم داسې خښ شو چې تر اوسه یې نړۍ د عزیز نسین په نوم پیژني.

د ۱۹۱۵ میلادي کال د ډسمبر په ۲۰مه، استانبول ښار کې نړۍ ته راغی. د ترکیې مختلفو ښـــوونځیو کې یې زده کړې وکړې او د ترکیې پوځي اکاډمۍ ته یې لاره ومونده. له زده کړو وروسته تر افســـرۍ ورسېد، خو په ۱۹۴۴ میلادي کال کې په پوځ او دولت د نیوکو له امله دندې څخه ګوښــه شــو او وروســته د هغه په خپله وینا په بېلابېلو دندو سره یې خپل ژوند چلاوه خو د ژوند ډېره برخه یې په لیکلو، ژباړې او چاپي رسـنیو کې تېره شـوې ده. په ډېره مینه یې لیکنې کولې چې له طنز سره سره به یو لوی اخلاقي درس او خورا ژور خو پو ست او په خندا پو ښلی نقد هم پکې پروت و.

په ژوند کې یې تر ټولو کرغېړنه پېښـــه په هغه باندې د یوې ډلې افراطیانو لخوا برید و چې یو هوټل کې پرې وشو، چېرته چې هغه له نورو علویانو سره یوځای محفل کې موجود و. په هوټل باندې شـــاوخوا لس ســـاعته برید روان و او په دې وخت کې هلته مېشت ۳۷ کسان ووژل شول. خو له نېکه مرغه عزیز نسین وکولی شـــول چې د یوې زینې په مرســـته د هوټل له شـــا څخه ځان وباسي. د اطفایې کارکوونکو چې کله د راښـــکته کېدو په حال کې ولیده د دې پرځای چې مرســـته ورسره وکړي، په هغه یې برید وکړ او نورو ته یې ور وښـــوده. له دې ټولو سره سره هغه له پېښې ژوندی ووت؛ خو په زړه ډېر زیات مات او خپه شو. له همدې پیښې دوه کاله وروسته پرې د زړه حمله راغله او په ۱۹۹۵ میلادي کال، د ازمیر ښار کې وفات شو. اوس مهال د عزیز نسین یو کلتوري بنسټ او د هغه په نوم د ماشومانو د ملاتړ یو بنسټ هم شته.

زه فکر کوم چې عزیز نسـین د همدې چپي نظریاتو له کبله د نوبل جایزې ته و نه نومول شو، سره له دې چې د طنز تر ټولو لویې جایزې یې واخیستې او اثار یې په لسګونو ژبو وژباړل شول؛ خو د غرب له خوا یې هغسې نمانځنه ونشوه چې پکار وه.

د هغه طنز یوه ترخه خندا لري چې سړی اول خندوي مګر وروسته یې هم په ظالم او هم په مظلوم باندې زړه سـوځي. طنزونه یې پریمانه سـمبولونه هم لري، چې خورا ژور خو اسـان، روان او سـاده دي. په طنزونو او ډرامو کې شـته کرکټرونه یې هر یو د یو ټولنیز رول اسـتازیتوب کوي. زه یې چې هر ځل کوم طنز لولم، فکر کوم دا یې زموږ هېواد ته لیکلی دی او دا شـته خلک هم زموږ ولس دی. ښـایي د ترکیې د هغه وخت ټولنه به همدغسـې وه او موږ ایله د هغوی تېر او وروسـته پاتې حالت ته رسیدلي یو.

عزیز نسین په ټوکو یو ځل ویلي و چې اوس مې شپږ ماشومان دي، دوه زره طنزونه یا داسـتانونه مې لیکلي دي خو که چیرې دولس وای نو څلور زره به مې لیکلي و. د هغه له قوله چې انسـانانو سره خورا مینه لري او د همدې مینې له امله انسانانو ته غوسه کېده.

که څه هم ډېر لوی لیکوال و خو سره له دې یې د ژوند تېرولو لپاره مختلفې دندې کړې دي او له دغو ټولو سره سره د وخت حکومت ځورولی، جریمه کړی، لیکنې او اثار یې ور سـانسـور کړي او ان خپله دی یې هم بندي کړی دی. که د نسـین په اړه غربیږو شـاید یو بل او خورا پنډ کتاب ته اړتیا شي چې یوازې د ده په هکله وي.

طنز د نثر یو داسې ژانر دی چې که د لنډه کیسه یا ازاده مقاله وي، ستغه نه لګیږي. یو انسـان په ټوکو ټوکو کې د خپل ځان او ټولنې نیمګړتیاوو ته متوجه کوي. دا چې انسـانان یوازې د منطق په اسـاس نه چلیږي او احسـاس هم ورسره

خپله برخه کې کنترول او واک لري، نو طنز له وچو نصیحتونو او کلیشه‌یي عبارتونو ځخه لیرې په ډېر هنر سره سمبولونه، پلاټ، کرکټرونه او توري اوبدي چې په خندا خندا کې د وګړو ژوند او چال چلند بدلوي، ورپام کوي يې او وروسته له لوستلو د یو مسؤلیت احساس کوي. دا کتابګوټی ما هغه وخت ژباړلی چې لا د دولسو کلونو وم.

طبیعي ده چې تېروتنې به لري او زه به خوشحاله شم که دا تېروتنې را په ګوته کړئ. ما له ځان سره پتیېلې وه چې دا ژباړې به نه خپروم خو بیا مې فکر وکړ چې ایا منطقي به وي چې د سلګون کار که نشو کولی نو لسګون هم اور ته واچوو او که لسګون وګټو او پاتې ۹۰ نورو ملګرو ته پرېښودل شي؟ البته چې نه ده.

د اردو ژبې شاعر راحت اندوري يو بیت دی:

ہم سے پہلے بھی مُسافر کئی گزرے ہونگے
کم سے کم، راہ کا پتھّر تو ہٹاتے جاتے

ما له همدې امله د دې اوږدې لارې ځخه یو خنډ لیرې کولو او کم تر کمه د لس سلنه کار ترسره کولو لپاره دا ژباړې بېرته په بیره بیره سمې کړې او دا کتابګوټی مې ترې را جوړ کړ. دا چې پښتو کې د طنز برخه خورا کمه ده نو د لیک وس که نه وي لږ تر لږه د ژباړې له لارې به دا تشه یو څه ډکه کړو او که نور هیڅ هم نشو، نورو ته خو به د لیک او ژباړې انګېزه ورکړي. هیله لرم د لوستونکو ذوق یو څه خړوب کړي او د پښتو ژبې لپاره دا وړه هڅه له ما په ډېر څه ومني.

**د یو ودان، سوکاله او هوسا افغانستان په هیله!**

**احمد سمون شریفي**

**7/04/2025**

# عشقي پيوند

# عشقي پیوند

ډاکټر مدحت چې د ترکیې په قونیې ښار کې اوسېده، سره له دې چې د عمر ۵۵ کاله یې تېر و، خو بیا یې هم کورنۍ او دوستانو دې ته رضا نه و چې واده ورته وکړي.

تر دې چې خپله ډاکټر تېر کال هغه وخت چې څو ورځې اختر ته پاتې وې، د حریت ســړک په سر کې پرتې لوکســې مغازې ته ورننوت؛ څو خپلو خپلوانو او ملګرو اندېوالانو ته ډالۍ او سوغاتونه واخلي.

د مغازې دننه پلورونکې چې ژېړ وېښتان یې درلودل او یوه ډېره ښکلې نجلۍ وه د ډاکټر پام ځانته ور واړاوه.

د نجلۍ ښــکلا تر دې حده وه چې ډاکټر له هیجانه یوه ځانګړې لړزا حس کړه او اړ شو چې د نجلۍ نوم وپوښتي. هغې ځان د نرمین په نوم ور وپېژانده او له هغه وروسته ډاکټر مدحت د واده غوښتنه ورڅخه وکړه. نجلۍ بې له کومې پوښتنې ومنله او له لومړۍ لیدنې څخه ۱۵ ورځې وروسته د ډاکټر مدحت مېرمنه شوه.

سره له دې چې ډاکټر مدحت ۵۵ کلن و، بیا هم شــیک او لوکس لباس اغوستلو ډېر ځوان ښکاره کاوه. ډاکټر بې له کومې استثناء څخه په ورځ کې دوه ځله په ځان ګوتې وهلې او د پارافین په غوړیو به یې خپل نقره‌يي رنګه وېښــتان غوړول. هر وار به له تېر ځله ښایسته ښکارېده او چې کله به یې له خپلې ښکلې مېرمنې سره د ښار په سړکونو قدم واهه نو پښې به یې په ځمکه نه لګیدې او سم په اسمانونو به ګرځېده.

له دې ټولو سره سره یې د واده په لومړۍ شپه په سړه سینه او ګواښمنه لهجه خپلې مېرمنې ته وویل:

خدای دې نکړي که چېرې دې خیانت راسره وکړ نو کوښښ کوه چې زه خبر نشم، والله چې ژوند به دې برباد شي. بیا یې پسې زیاته کړه چې گوره دا ستا لپاره وایم.

ډاکټر مدحت هم د نورو کم پیرودونکو ډاکټرانو په څېر د پوهنتون یو محصل له ځان سره کلینیک کې د نرس په توگه گومارلی و، چې له کلینیک بندولو وروسته به یې هم له ځان سره کور ته بېوه چې ډاکټر سره یې د ژوند په ورځنیو چارو کې هم مرسته کوله.

ډاکټر به کله کله معاینې خانې ته هم بېوه؛ تر څو عملاً زده‌کړه وکړي او دغسې د ځوانو ډاکټرانو لخوا د تېروتنو او د خلکو مړه کولو مخنیوی شوی وي.

د ډاکټر نرس یا خدمتگار له ښکلا هم بې برخې نه و او تازه ۲۰ کلن زلمی و. محمد نومېده او د ډاکټر د یو وفات شـوي ملگري زوی و چې په ده لکه د خپل زوی داسې گران و.

محمد د نرمین د نازونو او اداگانو او ښــکلا په وړاندې نشــو ټینگیدلی خو دا چې ډاکټر پرې خورا گران و نو کوښښ یې کاوه څو د ډاکټر مېرمن له یاده وباسي. له بله اړخه په نرمین باندې هم محمد ډېر گران و او لیونۍ مینه یې ورسره درلوده خو دا چې ډاکټر سره یې ژمنه کړې وه او نه یې غوښــتل خیانت ورسره وکړي نو په تمه وه چې محمد قدم ور وړاندې کړي. هغوی ډېر وخت دغســـې تېر کړ خو اخر یې یو بل په غېږو کې سره وموندل. محمد چې د خپلې وعدې په ماتولو لکه د سپي پښېمانه شوی و، ځان سره یې لوړه وکړه چې بیا دا سې ونکړي. خو د ډاکټر مېرمنه هم داسې څوک نه وه چې له محمد به په اسانه لاس واخلي. نرمین په دې کار بســـنه ونکړه او په محمد پســـې یې د ورځې څو لیکونه لیکل چې یو لیک یې داسې و:

" اه ګرا نه محمده! زړه مې غواړي چې تل دې په څنګ کې واوسم او هیڅکله درڅخه بېله نشم... زړه مې غواړي چې زموږ بدنونه یو بدن شي چې څوک مو هم سره بېل نشي کړلی."

یوه ورځ دا عشقي لیکونه د ډاکټر لاس ته ورسېدل. ډاکټر په داسې حال کې چې سخت نارامه او غوسه و، په پټه یوه ډېره وېرونکې نقشه جوړه کړه او د شونډو لاندې یې ځان سره وویل: له اولې ورځې پوهېدم چې دغسې یو حالت سره به مخ کېږم. هماغه شپه ډاکټر او مېرمنې یې له محمد سره یوځای ډوډۍ وخوړه. د شپې ناوخته مېرمنې او محمد دواړو یو ډول عجیبه بې‌سدي حس کړه.

ډاکټر یو تورپوستی قوي نوکر هم درلود چې له کورنیو جګړو راهیسې ورسره و او په یوه بیه هم تیار نه و چې د ډاکټر کور پرېږدي. ډاکټر د همدغه تورپوستي نوکر په مرسته دوی چې ښه بېحاله او بې‌هوښه شوي وو، د خوب کوټې ته یوړل او په کټ یې واچول.

ډاکټر څو دقیقې وروسته خپل له وړاندې تیار کړي د بې هوښۍ درمل را واخیستل او دوی دواړو ته یې چې لا هم بې‌سده وو، انستیزي ورکړه. بیا یې د جراحۍ کټ ته ورسول. اول یې د خپلې مېرمنې ښۍ پښه او ښی لاس پرې کړل او بیا یې د محمد کینه پښه او کیڼ لاس پرې کړل. وروسته یې د دواړو بدنونه سره پیوند کړل. اوس نو له دې په زړه سترو مئینانو څخه یو بدن چې څلور پښې، څلور لاسونه او دوه سرونه یې لرل جوړ شو.

ډاکټر مدحت په ۱۵ ورځو کې دوی دواړه بېحاله او بې‌سده وساتل او د درملو په مختلفو ډولونو یې کوښښ وکړ چې دا دوه بدنونه سره جوش وخوري او پیوند ومومي.

د ډاکټر چې په ۱٦مه ورځ پام شــو چې پیوندونه ښــه سره تړل شــوي او ښــه جوش یې خوړلی دی؛ نو پرېکړه یې وکړه چې دا دوه له ۱٦ ورځني خوبه را ویښ کړي.

هغوی چې له بېحالۍ را ووتل نو په ډېره وېرونکې او غمجنه توګه یې یو بل ته وکتل او پوه شول چې دا هر څه رښتیا دي؛ نو لړزا پرې راغله.

ډاکټر ډېر زیات خندل او تور پوســـتی نوکر خو یې له خندا په ځمکه رغړېده.

ډاکټر له خندا وروسته خپلې مېرمنې ته مخ ور واړوه او ورته ویې ویل:

ــــــ نو تا خپله نه غوښتل چې سره یو بدن شئ او هیڅوک مو هم سره بېل نشـي کړلی؟ اوس چې مو هیله پوره شوې نو ولې خپه یئ؟

ډاکټر بیا په خندا شو او ویې ویل:

ــ معمولاً داسې پیوند ته عشقي پیوند وایي.

***

# خوراکي رژيم

لکه د هغو گيلاســونو په شــان چې نرۍ ملا لري، زه او کورنۍ مې له دولتي شفاخانو څخه يوې ته ورغلو او صف کې ودرېدو. په دې اخرو وختونو کې ما، پنځه بچيانو او مېرمنې مې په ځان کې ناراحتي احســاســوله. کله به چې له کټه راپورته شوو په پښو کې مو دومره طاقت نه و چې زموږ کمزورى جسم له يوه ځايه بل ځاى ته يوسي او حرکت ورکړي.

حتى هغه حرکت چې له سرو او ســپينو حجراتو منځته راځي او په هر چا کې شــته په موږ کې نه و. علت يې دا و چې په موږ کې وينه نه وه. که له دې ښو سره د هند په سفر تللى واى نو له شک پرته به د هند تزکيه نفس پرځاى معلوميدو. په هغه ورځ چې مې حالت خطرناک وگڼه نو دولتي روغتون ته لاړو. باور مې درلود چې دولت به زما د دريو زامنو چې په راتلونکي کې به عســکر وي، د دوو لوڼو چې په راتلونکي کې به د نســل زياتولو ماشــيونونه وي او همدارنگه د هغې مېرمنې او خاوند په اړه چې د نسل زياتولو فابريکه وه هيڅ امکان نه درلود چې فکر ونکړي.

ډاکټر وروسـته له دې چې هر يو پنځلس ثانيې معاينه کړو، وويل: تاسـو ټول د ډېرې کمزورۍ په ناروغۍ اخته شوي يئ.

خپلو بچيانو ته مې مخ را تاو کړ او ومې ويل: بچيانو وا مو ورېدل؟ موږ د ډېرې کمزورۍ په ناروغۍ اخته شوي يو او لا خبر هم نه يو.

ډاکټر وويل: هو، تاسې له ډېرې کمزورۍ په ناروغۍ اخته شوي ياست او له دې وروسته بايد په خوراک کې زياتوالى وکړئ، کنه ناروغي به مو نوره هم خطرناکه شي.

بچیانو ته مې وویل: بچیانو وا مو وریدل ښاغلی ډاکټر وایي چې ډېر خوراک وکړئ. مګر په څه باید تقویه شئ چې له ناروغۍ خلاص شئ؟

څه وخت چې ډاکټر نسخه لیکله لاس مې ترې ونیو او ومې ویل: ښاغلیه! لاس ونیسئ، زه یوه نسخه نشم اخیستلی او تاسو راته ۷ نسخې لیکئ. ایا دا هغه کورنۍ ناروغۍ دي چې په کور کې په خپله جوړیږي که نه؟

- نه، په خپله نه ښه کیږي. ما تا سې ټولو ته تقویتي شربت او ګولۍ ولیکلې.

ښه بچیان دې په څه لویوې؟

- په وچه ډوډۍ.

- نو ځکه دومره ډنګر دي. دوی باید پروټین لرونکي خواړه وخوري، هغه هم ډېر زیات.

- نو پروټین لرونکي مواد یې کم دي؟

- هو ګرانه! زیات پروټین په غوښه، د چرګې هګۍ، شیدې، پنېر او له ټولو زیات په غوښه کې وي.

- لکه چې ومو ویل په غوښه کې له ټولو زیات دي؟

- هو، په غو ښه کې له ټولو زیات دي ته دنده او مسؤلیت لرې چې دوی ته زیاته او ډېره غوښه چمتو کړې او ور یې کړې.

- ډېره زیاته...

- هو ډېره... ډېره زیاته، ځکه که ویې نه خوري له لږې مودې وروسته له منځه ځي.

- ښاغلی ډاکټره! کومه غوښه چې زه یې دوی ته ورکوم باید څه ډول وي؟ د ښکار غوښه، د غوا غوښه، د میښې غوښه، د خرس غوښه، د وزې غوښه او یا د پسه غوښه؟

- که هره غوښــه وي پروا نه کوي. فقط کوښــښ وکړئ چې غوښــه وي او ور يې کړې. بچيانو ته مې مخ کړ او ومې ويل: ښــه مو واورېدل!؟ له ننه وروسته تاسو خوراکي رژيم لرئ او مجبور يئ چې ډېره ډېره غو ښه وخورئ. يقيني هغه څه چې زموږ تا سې وطن کې د سرو زرو حکم لري هېر مو نشي– ډېره ډېره زياته! بچيانو مې څو شــيبې احمقانه راته وکتل.

د روغتون ډاکټر چې نه يې غوښــتل د روغتون قوانين له منځه يوسي موږ ته يې ۷ نســخې وليکې. ما هم د دې لپاره چې تفريح مې کړې وي له بچيانو سره يو ځای درملتون ته ننوتلم. بچيانو مې يو شــور واچوه ځکه دوی فکر کاوه چې چايخانې ته راغلي يو هر يوه کوښــښ کاوه چې ژر له نورو څخه د خوړو ځای ته ځان ور ورســوي. دوا خرڅوونکي چې زما سره ۷ نســخې وليدې ۷ وارې يې شــکر وويلست. بيا يې وويل: ښاغليه ټولې ۷ نسخې دوا درکړم/

- مهرباني وکړئ اول د يوې نســخې بيه راته وښــياســت بيا به ورو سته فکر وکړم. دوا جوړونکي ډاکټر له يو څه جنجال ورو سته وويل: هره نســخه له پوره تخفيف سره ۳٦۱ ليرې او ۵ کروشــه کيږي. دا ۷۵ کروشه هم نه غواړم، ۱٦۱ ليرې.

له دې تخفيفه مې مننه وکړه او له درملتون څخه را ووتو.

– بچيانو د کور په لور مخته شــئ! بابا مو غواړي چې ســتاســې لپاره يو خبري کنفرانس وړاندې کړي. کله چې کور ته را ورســيدو ټول مې مخاطب کړل: گرانو بچيانو او زما مهربانې مېرمنې! څرنگه مو چې واورېدل ډاکټر صــېب وويل: د دې لپاره چې ناروغی څخه وژغورل شــو، بايد ډېره غوښــه وخورو او نســخه يې وليکله. مگر دا ښــه نه ده چې زه د خپلې يوې مياشــتې تنخوا په ۷ پاکټه گوليو ۷ بوتله شربت او ۷ ستنو يا امپولو باندې ورکړم او تا سې يوه ميا شت وږي او تږي و ساتم.

يعنې هر پلار چې تنخوا يې زما په شان وي داسې نه کوي مگر د ډاکټر سپارښتنه هم له پامه نشــو غورځولی. مجبور يو چې په کافي مقدار غوښـــه وخورو. مگر د غوښــې نشـــتوالی او لوږه او نه زغمونکې بيه نه سره جوړيږي. گرانو بچيانو او زما مهربانې ميرمنې! نن ورځ چينايان په شـوق او ذوق سره د بېلابېلو مارانو، انگريزان د کيشـپ (شـمشـتۍ) د غوښـې په خوړلو مخصـوصـاً کټلټ يې او ايټالويان د ډول ډول خرچنگونو په خوړلو سره وياړ کوي.

د يو فرانسوي سړي لپاره د چونگښې کباب د پسه او وزې له کبابه ډېر خوندور دی، پرتگالیانو د سپي د غوښې په خوړلو سره له نورو هېوادونو پرمختگ کړی.

د موږک غوښـه د جنوبي افريقا د دسـترخوان ښـکلا ده. د نوې گيني خلکو د کورني موږک په خوړلو لاس پورې کړی دی. حتی ويلی شـــم هغه قبيلې چې د انسـان غوښـه خوري د موږک له غوښـې هم غفلت نه کوي. موږ هم بايد د داسـې غوښو په خوړلو ځان روږدی کړو او نور دولت سترړی نکړو چې د غوا او پسه غوښه چې ډېره کمیابه ده موږ ته برابره کړي. ځکه دا امکان نلري چې د دې حيواناتو سالمه غوښه زموږ په اختيار کې راکړي.

لکه څرنگه چې پوهيږئ ٪۹۰ کالباس غوښه د اس او خره وي، زياتره کبابونه چې مسافرخانو کې خرڅيږي، د سپي او پيشو ده. تر ټولو بدتر (زموږ سوسيس) هم له هغو غواو څخه جوړيږي چې مړې وي. خلک هم بې له څه پاملرنې په ډېرې اشـــتها دا غوښــې خوري پرته له دې چې ناروغه شي ورځ په ورځ چاغيږي او قوي کيږي.

گرانو بچيانو! او له ځانه راته گرانې ميرمنې!

د دې ناروغۍ د له منځه وړلو لپاره بايد د هر څريدونکي او الوتونکي غوښـــه چې لاس ته را ورســـيده، وخورو، پرته د انســـان له غوښـــې چې هغه حريصـــو او کينه‌کښو ميړونو او ميرمنو ته پريږدو.

تا سې د دا سې نیکونو پاتې شوني يئ چې يو عمر يې په ځوانمردي سره ژوند کړی. د هند او اســیا (د چین او ماچین) ملکونو تر نیولو او ډېرو کارنامو څخه ورو سته يې هم ښکار نه دی هېر کړی او اکثره يې له دې لارې ژوند کړی دی. د دې هېواد مخکنیو زلمیو او عالمانو وروســته له دې چې جنګي زده کړه به يې سرته ورسـوله د جنګي زده کړو څخه به يې ښـکار کې کار اخیسـت. دا چې تاسـې د دغو جنګیالیو او ښــکارچي خلکو زامن يئ، له نن ورځې وروســته هر څه مو چې ولیدل باید ښکار يې کړو او ويې خورو؛ تر څو مو د نیکونو څخه يو ياد تازه کړی وي!

ګرانو بچیانو او زما مهرباني مېرمنې! موږ غواړو چې له هغې غوښې ګټه واخلو چې موږ يې وړيا او زموږ هیوادوال يې د ډېرو پیسو په بدل کې خوري او اوس پرته له دې چې خپل وخت له لاسه ورکړو په خپله تاريخي دنده به پیل وکړو. يو تن څو غشي او لیندۍ، يو تن رسۍ، بل تن غشی او يو هم له مخصوصې نيزې څخه کار واخلئ، څو له دې ناروغۍ څخه وژغورل شو. زما له شور او شوق نه ډکې وینا پرته له دې چې په وینا کې څه وي زما دوه بچیان وژړول. د خدای شــکر چې له هغې ورځې وروســته زموږ په کور کې د غوښــې مســئله حل شــوه. ځکه چې د ســپي له غوښې نیولې د مرغۍ تر غوښې پورې د هر څه غوښه مو وخوړله، حتی دوې ورځې وړاندې مو يو خر هم په ګنج کې واخیست او مېرمنې مې قورمه کړ، څو په ژمي کې بې غوښې پاتې نشو.

مګر ډاکټر ... کله چې له اولنۍ معاينې وروســته ورغلو نو هیڅ يې و نه پیژندلو. ځکه تر ټولو وړوکی زوی مې دېرش کیلو چاغ شــوی و هغه هم په يو کال کې. مېرمنه مې دومره چاغه شــوي وه چې له ډېر چاغوالي څخه په خپلو پښــو لا نشوه ودرېدلی. ډاکټر چې کله ښه ځیر شو ويې پوښتل:

- تاسې هغه نه یاست چې تېر کال نږدې و له منځه لاړ شئ؟
- هو ډاکټر جانه! همداسې ده.

- ځنګه داسې په حال راغلئ؟

- ښــاغلیه ډاکټره! غوښــه مو وخوړه د چرګې غوښــه، د ماهي غوښه، د وزي غوښه، د بیفتک غوښه، د کالباس غوښه او د سوسیس غوښه.

ولې بېچاره ډاکټر نه پوهېده چې موږ د اس، خره، د تور کارغه، د بلبل، د چنګښې، خرچنګ او بالاخره د کورني موږک په غوښه ځان داسې مزی کړی دی.

***

# لار وهونکی

څه وخت چې زموږ د بس چلوونکي په ســـړک پرتې لويې ډبرې وليدې نو په وېره يې چيغه کړه: يا خدايه! را ورسېږې! بيا لار وهونکو لاره بنده کړې ده.

يو ناڅاپه ټولو خلکو د وېرې له امله شـــور جوړ کړ او هر څوک په دې بوخت شو چې څنګه او چېرته خپل قيمتي شيان پټ کړي. له چلوونکي سره مرستيال يا کلينډر وويل: ښاغلو او مېرمنو! هسې ځانونه مه په تکليفوئ! ځکه زموږ د وطن لار وهونکي د بس له هر سوري او سوړې څخه داسې خبر دي لکه خپله يې چې هلته څه پټ وي.

مېرمنې مې خپله لاسي ګړۍ چې له شـلو وارو به يې زياته بيا جوړولو ته وړې وي او اوس هم ورځ کې څلور ساعته مخته او وروسته کار کوي، له لاسه وکښله او د پټولو لپاره يې ورته ځای لټاوه. ما هم له دې نړۍ څخه خپله برخه يعنې ټول ټال ۳۰ ليرو څخه ډېرې نلرلې. همدا چې بس د غټو ډبرو مخ ته کرار شو او ودرېد، دوه کسه لار وهونکي چې بريتونه يې له غوږونو هم ور تېر وو، راپورته شول. يوه وويل: که غواړئ ژوندي پاتې شئ، وخوځېږئ! ګنې ډزونه کوم.

دويم يې جمله دغسې پوره کړه:

- موږ په لوی او واړه رحم نه کوو، هر څه چې درته وايو ويې منئ.

موږ ۵۰ واړه مسـافر يو ځل بيا له وېرې ولړزېدو. زړونه مو داسـې درزېدل چې که لاره يې وای نو ټوپونه به يې اچولي وو.

یو له هغو چې مشر یې ښکارېده او یوه سترګه یې ړنده وه، موږ یې مخاطب کړو:

- ښاغلو او مېرمنو، موږ تاسو ته بد نظر نلرو او ځکه مو مزاحم شوو چې غواړو مالونه مو ولوټو او البته چې د لار وهلو د قانون له مخې او اجتماعي عدالت ته په پاملرنې سره به د هر یو د ندې ته په کتو درڅخه مالونه واخلو. له تاسو غواړو چې پوره هویت مو له موږ سره شریک کړئ!

یو بل لاروهونکي چې د بس چلوونکي سګریټ یې ښه په زوره زوره کش کاوه، یو قلم او کاغذ له جېبه را وکښل.

ړانده لار وهونکي د چاغ او غټ خیټي سړي څخه د هغه د دندې پوښتنه وکړه او هغه هم ځواب ورکړ.

لار وهونکي وویل:

- ولیکه دنده یې ټیکه‌داري ده.

- ډېر ښه. ومې لیکل، باید ۵۰۰۰ لیرې ورکړي.

ړانده لار وهونکي په داسې حال کې چې په سوک یې د غټ خیټي سړي مټ واهه، وویل:

- له قانون نامې سره سم تاسې اړ یئ چې ۵۰۰۰ لیرې سمدستي ورکړئ.

سړي زړه نا زړه ۵۰۰۰ لیرې ورکړې او وروسته د دویم کس هویت ته ځیر شوه.

- ولیکه! د خوراکي توکو پلورونکی دی.

- ومې لیکل، باید ۳۰۰۰ لیرې ورکړي.

- خو ښاغلیه! زه ۳۰۰۰ لیرې نلرم.

- موږ په دې شــيانو نه پوهېږو، زموږ له قانون سره ســم د همدومره پیسـو په ورکولو مکلف یې او که نه یې لرئ له دغه غټ خیټې یې پور کړئ.

دو کا ندار له ټېکه‌دار څخه ٦٥٠ لیرې پور کړې او وریې کړې. ړا نده لار وهونکي وویل:

- ولیکه! دا هم سکاره پلورونکی دی.

- ومې لیکل، ســکاره پلورونکی باید ٢٠٠٠ لیرې ورکړي، البته خبره پکې شــته چې که ســکاره پلورونکی په ژمي کې ګیر شــو باید ٢٠ سلنه زیاتې ورکړي.

- نو بیا څو کیږي؟

- ښــه نو ســږ کال ډېره واوره هم اورېدلې ده، باید ٢٥٠٠ لیرې ورکړي.

- هله! ځنډ مه کوه!

سکاره پلورونکي هر ډول چې وې پیسې ورکړې او ځان یې هوسا کړ.

- ښه مېرمنې ستاسو مېړه څه کار کوي؟

- د جلب مامور دی.

- هلکه ولیکه!

- ومې لیکل. باید ١٠٠٠ لیرې ورکړي خو که مېرمن یې وي نو ٥٠ سلنه تخفیف لري.

- ښه، خورې! ٥٠٠ لیرې ورکړئ او ځئ.

- زه پیسې نلرم.

- دا وانښي (باهو) پیسې نه دي څه؟

- څه واویم!؟

ړانده لار وهونکي په یوه شېبه کې د ښځې له لاسه درې پنځه بنگړي (وابښي) وکښل او په جریمه کې یې حساب کړل.

له ښځې وروسته د انجینر نوبت شو. ړانده لار وهونکي د مسافرت د جریمې قانون په اساس له دوی نه ۷۰۰۰ لیرې وغوښتې. ملگري یې وویل:

- که خپل دفتر ولري نو ۷۰۰۰ لیرې به راکوي او که چېرې دولتي دفتر لرونکی انجینر یې نو دوه زره نورې هم پرې ور ډېرېږي.
- شخصي دفتر لري.
- نو ۷۰۰۰ ترې واخله.
- خو زه له ۵۰۰۰ لیرو ډېرې نلرم.
- موږ یې د قانون مطابق درڅخه اخلو او که یې نلرئ نو کالي، گړۍ، او گوتمې مو هم قبلوو.

انجینر مور مړی له جریمې پرې کولو ورو سته دا سې لوڅ پاتې شو لکه اوس چې نور ویده کیږي. ړانده لار وهونکي له یو بل کسه وپوښتل.

- ډاکټر یم، ښاغلیه!
- ولیکه هلکه!
- ومې لیکل، د دوی جریمه څومره کیږي؟
- البته توپیر لري که دولتي ډاکټر وي.

ړانده لار وهونکي په غوسې سره خبره ور پرې کړه:

- هو دی! دولتي ډاکټر دی.
- کـه دولتي دوا یې کور تـه نـه وي وړې او لـه هغې دوا یې شخـصي درملتون ته دوا نه وي وړې نو ۲۵۰۰ لیرې باید ورکړي.

کلـه چې ډاکټر وویـل چې لـه ۱۰۰۰ لیرو ډېر نلري نو هغـه یې لـه یوې زېرپیراهنۍ او نېکر سره پرېښود.

- ښاغلی هم پولیس دی په رخصتۍ ځي.
- د لارښوونې او چلونې پولیس دی که عادي؟
- د لارښوونې پولیس دی.
- ۱۰۰ لیرې.
- ښاغلی هم وکیل دی.
- پوښتنه ترې وکړه چې د ښاروالۍ وکیل دی او که ازاد وکیل دی ځکه چې توپیر لري.
- د اداري محاکماتو وکیل دی.
- ځه شکر وکاږه چې د محکمې وکیل نه یې، والله چې ۳۰۰۰ لیرې به مې درڅخه اخیستې.
- دا هم د ادارې رئیس دی.
- باید ۵۰ لیرې ورکړي، که مالیات د اولاد خرڅ او تقاعد هم ترې لیرې کړو نه پوروړی کیږي. څو اولادونه لري؟
- وايي ۵ اولادونه لرم.
- بیا باید ۵۰ لیرې هم سمدستي ورکړو.

نور نو نوبت تر ما را ورسېده، د هویت پاڼې د ورکولو په مهال مې په جېب کې په پرتو ۳۰ لېرو ښه فشار راوړ. ړانده لار وهونکي وویل:

- څو کاله کیږي چې تقاعد شوی یې؟
- درې کاله.
- سمدستي دې د مېرمنې لاس ونیسه او در ښکته شه.

په داسې حال کې چې د ځان له وېرې لړزېدم له بس څخه ښکته شوم او په دې خیال چې څو دقیقې وروسته به ما او مېرمن مې چارماري کړي، د دقیقو په

شـــمېرلو مې پیل وکړ. څو دقیقې وروســـته یې د هغې غونډۍ سر ته بوتلم چې د دوی ټولمشر پرې ناست و.

د لار وهونکو ټولمشر له جوړ پخېر وروسته راته وویل:

- څو کاله کیږي چې تقاعد شوی یې؟
- ۳ کاله.
- راشه دا ۳۰۰۰ لیرې دې د تقاعد معاش چې نه یې درکوي.
- ایا خوراک څخه دې رضـــا یې ؟ په زړه او کولمو خو زور نه راوړې؟
- ولې نه، ډېر وخت زور پرې راوړم، ځکه د کولمو او معدې زخم لرم او سپین او تور ځیگر مې سره گډوډ دي.
- دا هم ۲۰۰۰ لیرې د خوراک لپاره.
- دا دې لکه چې مېرمنه ده؟
- هو صېب.
- دا هم ۲۰۰۰ لیرې د دغې مېرمنې.
- لکه چې دا یو جوړ لباس لري او بل نه اخلې.
- نه صېب، دا مې هم ۱۰ کاله وړاندې گنډلی دی.

د لار وهونکو ټولمشـــر یوه کڅوړه چې له بېلابېلو لباسونو ډکه وه، تشه کړه او یو جوړ پاک سوتره لباس یې راکړ.

- ستاسو ډېر منندوی یم، ایا اجازه راکوئ چې زاړه کالي مو هم واخلو؟
- وایې خلئ، هسې هم بل څوک دا نه اغوندي.

مســـافرو چې ولیدل موږ لا ژوندي یو او نوی لباس مو هم په تن دی ډېر خوښ شول.

زموږ خوښـــي هم له دوی څخه کمه نه وه. سره له دې چې پوهېدو دا ټولې پیســې باید پولیســو ته ورکړو او له هغوی د تحویلۍ کاغذ واخلو خو زړه کې خوښ وم چې خپلې ۳۰ بایللې لیرې مې وساتلې.

***

# له خپلو لیونیو مو مه کړې!

زموږ کلی د پولې تر څنګ پروت دی دلته د ونې، بوټي، چینې او ویالې درک نشته. زموږ کلی لکه یو غوسه ناک سپي چې له غاښونو ډکه خوله پورته نیولې وي، دغسې د غره د غاښونو منځ کې پروت دی.

تر ټولو مټور او میړني هم نشي– کولی چې د تیږې له دې تختې واوړي. د تیږې دا توره تخته د لمر مخه نیسي– او کلیوال همېشـــه د لمر له رڼا بې خبره پاتې کیږي.

کله چې د لمر رڼا نور کلي ځلوي زموږ کلی له تیارې نه ډک وي، نژدې غرمه لمر را وخیژي خو ژر ورک شي. هر کال د ژمي موسـم له پیلیدو سره سـم د سـیلاب له امله غټ غټ کاڼي په کورونو را لویږي او څو کورنۍ په غم ککړوي. یوه ورځ یو ملنګ چې غریبي یې له څېرې ورېده او مخ او بدن یې د هډوکو دوکان ښکارېده د دې وضعیت په لیدو سره راغی او د کلي سپین ږیرو ته یې وویل:

- زه کولی شم تاسې د تیږو له دې تختې خلاص کړم.
- څنګه یې کولی شې؟
- ژمنه ده چې دا لویه د تیږو تخته له دغه ځایه پورته کړم او هغې دښتې ته یې وغورځوم.
- ستا پښې مو نیولې، ژر یې وکړه!
- یو شرط لرم چې زه باید څلوېښــت ورځې ښــه وخورم او ښــه وڅښم. قوي قوي خوراکونه وکړم او ښه استراحت وکړم.
- په تکو تورو سترګو! خو له دې تورې بلا مو وژغوره!

هر څه چې وغواړې درکوو يې!

مشرانو غونډه جوړه کړه، ټول خوشحاله وو، بې له يو روڼ اندي ځوانه چې ويل يې:

- باور پرې مه کوئ! دا سړی دروغ وايي. غواړي تېر مو باسي. څرنګه امکان لري د تیرو دا تخته چې زرګونه ټنه وزن لري، لرې یې کړي؟!

د کلي مشر او ملا ورته وويل:

- زو يه! ته عقل نلرې. څوک دا جرئت لري چې موږ ته دروغ ووايي؟ که په خپله ژمنه و نه دريږي داسې بلا به پرې راولم چې د اوښکو پر ځای وينې له سترګو اوروي. موږ د هر څه فکر کړی دی.

- د څه فکر مو کړی دی؟

- ملنګ به په يوه کوټه کې بندي کړو، دروازو ته به يې غټ غټ کولپونه واچوو او شپه ورځ به ورته ځارونکي وګومارو. د سيند له کب څخه واخله د دښتې تر غرڅې پورې هر ډول مړی چې وغواړي، ورته تيارو به يې، تر څو قوي شي. که په څلوېښتمه ورځ يې غر له خپله ځايه ايسته نکړ، د همدې غره له سره به يې راخطا کړو. ته دې خپل کار کوه او څه ته دې چې عقل نه ور رسيږي پکې مه غرېږه!

علي چې هر څومره ټينګار کاوه، ځای يې نه نيوه. اخر هم غوسه شو، ويلې: بلا مې درپسې چې پردي ملنګ باندې خپلې مړۍ خورئ.

## **اې غوا پښې دې نيسو!**

علي نوی واده کړی و، ځوانې او ښايستې مېرمنې يې په داسې حال کې چې يوه محلي سندره يې ويله غوا يې لوشله. څو ځاځکي شيدې په بوسو تويې شوې.

نوې ناوې وېرې واخيسته، په نکريزو سره لاسونه يې له ويرې لړزېدل. خوابنې يې ډېره بدخويه او بخيله وه نو غوا ته يې وويل: ځار دې شم، ودې گرځم! زما خوابنې ته خو و نه وايې!

غوا سر وښوراوه او يو بغغغ يې وکړ. ناوې لښتې او غاړه‌کۍ د غوا غاړې ته ور واچول او ورته يې وويل:

- واخله دا ستا شول.

دغه وخت يې خوابنې راغله ورته يې وويل:

- دا څه کوې؟

- د دې لپاره چې تا ته و نه وايي چې څو ځاځکي شيدې بېځايه تويې شوي دي.

خوابنې يې هم وېرې واخيسته ځکه مېړه يې دومره بخيل و چې پرې تمامه وه. خوابنې يې هم خپل ورېښمين ټيکرى په غوا واچوه او ورته يې وويل:

- ځار دې شم! قربان دې شم! د خداى لپاره چې مېړه ته مې څه و نه وايې!

د خوابنې مېړه يې راغى، گوري چې غوا ښه ښايسته سينگار شوې ولاړه ده، وېې ويل:

- دا څه دي؟

مېرمنې يې ورته ټول حال واويه. د خوابنې مېړه يې هم وويل:

- که زوى مې خبر شي خپلې ښايسته ناوې او زما اينگور ته به طلاق ورکړي.

بيا يې خپله د سپينو زرو قيمتي گړۍ له لاسه را پرانيسته او غوا ته يې ورکړه چې زوى ته يې څه و نه وايي. گاونډيان هم چې خبر شول نو هر يو يې لږ ډېر څه غوا ته ورکړل. په دې وخت کې علي راغى وېې ويل:

- دا څه دي؟

خلکو چې ټول حال ورته تېر کړ نو علي له غوسې چیغه کړه:

- ورک شئ لیونیانو! څوک د پردي ملنګ خېټه مړوي او څوک غوا ته رشوت ورکوي! نور تاسو لیونیانو سره یوه شېبه لا نه پاتې کېږم.

خپل کور څخه یې خورجین او شپیلۍ را واخیستل او له کلي لاړ.

یوه ورځ په یوه کلي ورپېښ شـو. ګوري چې په کلي کې غوغا ده. علي ترې وپوښتل:

- څه شوي ښاغلیو؟

- د غوا سر په کټوه کې بند شوی دی، هر څومره کو ښښ چې کوو بې ګټې دی.

- یوه ملا ته به ورشو چې څه وایي.

- ملا ستا لمن مو نیولي ده څه وکړو؟

- د غوا سر پرې کړئ! خلاص به شي!

کلیوالو بې له ځنډه د غوا سر پرې کړ خو د غوا سر لا هم په کټوه کې بند و.

- دا خو خلاص نشو.

- کټوه ماته کړئ، خلاص به شي!

کله یې چې کټوه ماته کړه د غوا سر ترې خلاص شـو، ټولو ملا ته دعا کوله.

علي چې وکتل چې دا لیونیان یې د خپل کلي تر لیونیانو لا بدتر دي نو وینه یې په ځوښ راغله، د غوا څښتن یې له مرۍ را ونیو او ورته ویې ویل:

- اې سـړیه! هم دې غوا مړه شـوه او هم دې کټوه ماته شـوه، خو له اوله به دې کټوه ماته کړې وه.

کلیوال د علي په ږښو ور پرېوتل چې موږ ستا غوندې هو ښيار سړی په کلي کې نلرو، دلته پاتې شــه، خوره څښــه او هيڅ مه کوه، بس يوازې د کلي ســتونزې هواروه. هر څه چې غواړې درکوو به يې او درته کوو به يې.

علي ورته وويل چې زه له خپلو ليونيانو را تښــتيدلی يم، تاســې سره به څه گوزاره وکړم.

## د لټ بچيه وخوځېږه نو!

علي ببيا هم يو کلي ته ورســېد. يوه ډله له خره نه راچاپېره وو او خبرې يې کولې. هغوی ته ورغی، په حيرانۍ سره يې کتل چې د غنمو څخه يوه ډکه کته غواړي په خره بار کړي؛ خو د کتې يو پلو ډک دی او بل پلو خالي دی، چې په خره کته واړوي نو خر چپه شي. يوه وويل:

- لاړ شئ هوښيار ملا نه پوښتنه وکړئ.

علي هم هوښيار ملا ته ورسره ورغی. ملا ښه لارښوونه وکړه ويې ويل:

- دا خو اسانه خبره ده، د کتې بل پلو ته کاڼي ور واچوئ.

کله چې خر په خپلو پښو ودرېد نو ټول ډېر خوشحاله شول او نارې يې کړې:

- ژوندی دې وي ملا! په دې گرده نړۍ تر تا هوښيار نشته!

خر خو په خپلو پښــو ودرېد خو اوس دومره بار شــوی و چې ښــورېدلی نشــو. څښــتن يې داســې ډنډه د خره په سر وار کړله چې خر ببوزله ځای په ځای ولوېد. علي اړ شو چې مداخله وکړي:

- د تيرو پلو خالي کړئ، د غنمو بار نيم کړئ، نيم د کتې يو او نيم د کتې بل پلو ته وتړئ.

کله چې خر په خپلو پښــو ودرېد او خلکو د علي خبره ومنله نو خره په اســانۍ سره مزل پيل کړ. کليوالو علي ته وويل:

- موږ سره اوسېږه، خوره او څښه، استراحت کوه او هيڅ کار مه کوه بس يوازې زموږ لارښود شه!

علي وويل:

- زه له خپلو ليونيانو په تنگ يم نو تاسې سره به څه واوسم.

## واښه ښکته کړئ!

علي په سفر کې باران لمداوه، لمر ځورواه، جامې يې شکيدلې وې، کله کله به د ونې سـيوري ته ويده شـو او له چينو به يې اوبه څښـلې. کلى، مور او مېرمن يې ډېر يادېدل خو ځان سره يې ويل چې هغو ليونيانو ته بايد ور نشم.

يوه ورځ يو کلي ته ورسېده، کليوال د مېلې په ميدان کې راټول شوي وو. يوه گيډۍ واښـــه يې له پورته راځوړند کړي و او څو نفرو يوه چاغه غوا په غېږو کې ور پورته کوله؛ تر څو واښه وخوري.

علي وپوښتل:

- څه کوئ؟

- ړوند خو نه يې، غوا ته واښه ورکوو.

- نو دغسې خو نه ورکول کيږي.

- ښا څرنگه کيږي؟

- د دې په ځای چې غوا پورته کړئ، واښه راکښته کړئ.

کله يې چې د علي خبره ومنله غوا د وښـــو په خوراک پيل وکړ. کليوالو ورته وويل چې د دوی په کلي کې پاتې شي، وخوري او وڅښـــي، هيڅ کار ونکړي او اســتراحت وکړي. بس يوازې د دوی ســتونزې حل کړي خو علي و نه منله او ويل يې چې زه له خپلو ليونيانو تنښــتيدلی يم نو تاســو سره به څه پاتې شــم. علي بيا د مزل موزې په پښو کړې.

## اس دې خوا وتړئ

علي يو بل کلي ته ورسېد. دلته نو خلکو يو اس د ګاډۍ په ټېرونو پسې تړلی و او په متروکو يې واهه چې ګاډۍ کش کړي، بې ژبې څاروي غوښتل چې د سينې په زور او لرګيو يې کش کړي خو خلکو د ګاډۍ په ټيرونو پســې تړلی و. کليوالو په حيرانۍ سره يو بل ته بونګېدل:

- ولې نه ښوري؟

علي وويل:

- اې د خدای بنده‌ګانو، اس خو داسې حرکت نه کوي!
- نو څه وکړو؟
- د اس ګاډۍ د اس سينې ته ور وتړئ.

کله چې يې د اس ســـينې ته ګاډۍ ور وتړله نو اس روان شـــو. کليوالو ورته وويل:

- ته څومره هوښــــيار يې! زموږ په کلي کې پاتې شـــه، خوره او څښه، هر څه درکوو، بس يوازې زموږ ستونزې راحلوه.

علي و نه منله او له دې کلي هم ولاړ.

## پرتوګ څنګه اغوستل کيږي؟!!

علي يو داسې کلي ته ورسېده چې کليوالو پکې يو نوي ځوان شوي هلک ته د پرتوګ اغوستل ورښودل. ځوان يې د جومات بام ته وخېژاوه، لاندې دوو کسانو ورته پرتوګ ونيو او ځوان ته يې وويل: ورته راټوپ کړه، ژر کوه!

ځوانکی وېرېده خو اخر يې راټوپ کړل او پښــه يې په پرتوګ کې بنده شــوه، په ځمکه راپرېوت او سر يې مات شـــو. د هلک له سر وينې بهيدې خو کليوالو

څوانکی نه پرېښـــود او دې بدمرغه ته يې ويل چې: لاړ شـــه او له سره بيا راټوپ کړه! د علي د صبر کاسه ورته ډکه شوه ويې ويل:

- څه کوئ؟
- نه يې وينې؟ غواړو پرتوګ اغوستل ور زده کړو!
- ستاسو په کلي کې پرتوګ داسې اغوستل کيږي؟
- هو نو، ته وا بله لاره هم لري؟ له پاســه پرتوګ ته راټوپ کوو او هغوی چې نه يې وي زده نو ژوبليږي او کله کله مري هم.
- پرې يې ږدئ! پرتوګ داسې نه اغوستل کيږي.

علي هغه څوانکي ته د پرتوګ اغوستل ور زده کړل. کليوالو ورته وويل:

- ته څومره هوښــيار يې! له موږ سره پاتې شـــه، هر څه چې غواړې، درکوو يې.
- زه له خپلو ليونيانو په تنګ يم نو له تاســو سره به څه ګوزاره وکړم.

## کارغه و که کانې؟

علي به ډېر کله د ونې ســيوري ته کېناســت او شــپيلۍ به يې غږوله. هغه ته مور، پلار، کلی او مېرمن يې ډېر ور يادېدل خو نه يې غوښــتل چې کور ته لاړ شي او خپل ســفر يې پســې وغځاوه. اخر يو کلي ته ورســېد چې د دوو کليو يو بل سره شـــخړه وه، په چړو، کوتکو، خنجرو يې يو بل سره وهل. علي منځ ته ور ولوېد او ويې پوښتل:

- ولې يو بل سره نښتي يئ؟ له يو بل څه غواړئ؟

د علي په چيغو او نارو دوی جنګ بس کړ.

- دا دوه کلي یو وخت د یوې کورنۍ غړي وو، یوه ورځ احمد او محمد سره ناســـت وو چې د احمد په یوه تور شي ســـترګې ولګیدې او محمد ته یې وویل چې هغه تور کارغه وینې؟

محمد ورته وویل:

- هغه کارغه نه دی، غلط شوې.
- کارغه دی.
- کاڼی دی.
- نه، کارغه دی.
- هرومرو کاڼی دی.

احمد د خپلې خبرې د اثبات لپاره کاڼی ور وغورځاوه.

- ودې لیده، والوت ځکه چې کارغه و.
- هیڅ وا نه الوت ځکه چې کاڼی و.

دوی شـــور سره کوي او یو بل سره نښـــلي. د کورنۍ یوه ډله د احمد او بله د محمد په پلوۍ ودرېدل او خپلو کې سره ونښتل. څو تنه مړه شول او په سلګونو نور ټپیان شول. دوه کلي شول، یو تور کاڼی او بل تور کارغه.

- ډېر ښه اوس مو په څه سره جنګ دی؟
- کله چې له دغو کلیو دوه مخالف سره ووینې نو یو ورته وایي چې هغه څه چې ســـتر نیکه مې لیدلي و، کارغه و او بل ورته وایي چې نه! دروغ دي، کاڼی و. بیا نو دواړه سره جنګیږي او خپل خپلوان یې هم مرســـتې ته راځي. په کال کې دوې درې نښـــتې خامخا کیږي چې ډېر مالي او ځاني زیان لري.

علي موسکی شو، دا نو د لیونتوب اتلان وو.

- راځئ بېرته سره یوځای شئ.

- ځنګه سره يو شــو؟ د دوی کلی تور کانی دی او زموږ تور کارغه.

- دا خو اسانه ده، د کلي نوم به د کاڼي کارغه کيږدو.

کليوالو ورته وويل: ته ډېر هوښيار يې! له موږ سره پاتې شه، خوره او څښه، هيڅ کار هم مه کوه، بس يوازې زموږ ستونزې راحل کوه.

علي ورته وويل:

- زه خپله له خپلو ليونيانو په تنګ وم او ترې تښــتيدلی يم، نو تاسو سره به څه ګوزاره وکړم!؟

## ناوې په دروازه نشوه ننوتلی

علي چې هر څومره لېرې لاړ همـدومره يې د خپـل کور او کلي سره مينـه زياتېدله. يو کلي ته ورسـېد چې هلته واده و، علي هم خپله سـترړيا هېره کړه ځکه چې ډېر وخت وروسته يې خوښي، ډول او سورنۍ وليدل. له دوی سره يوځای شو، دوی ناوې د زوم کره وړله او هلته دا رواج و چې ناوې به په اس سپره د زوم کور ته ورننوځي. د زوم د کور دروازه په پخواني ســبک جوړه وه او ټيټه وه نو ناوې په اس سپره کور ته نشوه ننوتلی.

- څه وکړو؟

- د اس پښې به ماتې کړو؟!

- نه، تاوان دی.

- دروازه به له بېخه وباسو.

- نه! زويه، تاوان دی.

- د ناوې سر به غوڅ کړو!

د غه اخر نظر د ټولو کليوالو خوښ شــو او نژدې و چې د ناوې سر ور غوڅ کړي. د علي صبر پای ته ورسېد او ويې ويل:

- مه! مه!

د ناوې خپلوانو چې وليدل يو پردی او نا ا شنا سړی د دوی کار کې لاسوهنه کوي په غوسه شول او ويې ويل:

- تا ته يې څه؟ ولې د خلکو کارونو کې لاس وهې؟
- که اجازه راکړئ چې زه ناوې د زوم کور ته دننه کړم.

او بې له دې چې د چا ځواب واوري د ناوې سر ته يې يو کلک ســوک ورکړ، ناوې له دردہ سر ټيټ کړ او اس له ناوې سره د زوم کور ته ننوت.

کليوالو له علي غوښتنه وکړه چې ورسره پاتې شي خو علي پاتې نشو.

د علي هيله نور له هره ځايه غوڅه وه او خپل کلي ته بېرته راغی. کله چې خپل کلي ته راغی نو خلکو خوښۍ کولې. علي له يو سپين ږيري وپوښتل چې څه خبره ده؟ هغه ورته وويل چې نن د ملنګ څلوېښــتمه ورځ ده او موږ له غره څخه ژغوري.

ملنګ يې چې له کوټې راووېســت، ډنګر ســړی چې څو ورځې وړاندې يې له لوږې خبرې نشوې کولی دا سې پنډ شوی و چې په لاره نشو تللی، کله چې تورې تختې ته را ورسېدل نو ملنګ په ډاډه انداز سره ټولو ته وکتل:

- اوس يې نو ورځ ده چې له دې ځايه دا غر پورته کړم خو د دې لپاره يو نرم بالښت هم پکار دی.

بزګرانو ورته يو نرم بالښت راوړ. ملنګ بالښت په ملا وتاړه او ويې ويل:

- اوس نو لږ کومک وکړئ دا غر زما په ملا کېږدئ چې لېرې يې يوسم.

د کلي مشر حيران شو، ملا هم چورتي شو، ټول کليوال هک پک شول.

ملنګ بیا غبږ وکړ:

- ولې نبغ ولاړ یئ؟ ژر شــئ دا غر زما په ملا کېږدئ چې لېرې یې یوسم.

کلیوالو یو بل ته وکتل او وې ویل:

- ملنګ په حقه دی. رښتیا وایي.

- موږ چې غر د ملنګ په شــا نه شــو وراینښــودلی نو څنګه یې لیرې یوسي؟

ټولو یو ځای زور وکړ خو هیڅ ګټه یې ونکړه، ملنګ چې په په دې حیله یې ځان وژغوره، خدای پاماني یې وکړه او لاړ.

علي وویل:

- زه به تاسې له دې غره وژغورم.

د کلي ملا وویل:

- موږ حضرت خضر و نه ژغورلو ته به مو څه وژغورې!؟

- ســیي ده چې غر هاخوا ته نشــو وړلی خو کورونه خو هاخوا ته وړلی شو. بل ځای به کلی جوړ کړو.

علي فکر وکړ چې ټول بــه یې خبره ومني او ده تــه بــه افرین ووایي، ترې خوشحال به شي خو خبره سرچپه شوه. وړو او زړو ورپسې وخندل. پلار یې وویل:

- چپ شه زویه! څرنګه دا دومره کورونه هاخوا یوسو؟

- نو څرنګه مو دا دومره لوی غر هاخوا یوړ؟

پلار یې غلی شو. علي له دې چوپتیا یوه ساه واخیسته او ویې ویل:

- هر څوک چې ما سره موافق وي، راسره راځئ! زه خپل کور هاخوا وړم.

علي کولنګ را واخېست او خپل کور یې ړنګاوه. کلیوالو ویل:

- زموږ د کلي، يو ليونی کم و، ښه شو خدای هغه هم ورک کړ.

علي دې خبرو ته غوږ نه نېو او په خورا علاقه او شـــوق لگيا و خپل کار يې کاوه او خپل کور يې هاخوا واړوه.

اوس به د علي کور ته وختي لمر را څرگندېده او ناوخته به ډوبېده. علي چې له لويانو نهيلی شو د کلي ځوانانو او وړو ته ورغی او ورته يې وويل:

- زما کور ســتاســې له کور ښــه دی، لاړ شــئ تاســې هم خپل کورونه دې خوا ته راوړئ.

ځوانانو او کوچنيانو ته چې څه په لاس ورغلل را وا يې خيســـتل او په کورونو ورانولو لگيا شول. تر څو لويان راتلل دوی په کورونو کې څه پريښي نه و. ټول کلی له گرد و غبار ډک و. ميندو ډېرې چيغې وکړې چې مه! مه کوئ! کورونه مه ورانوئ خو چا غوږ ورته نه نيوه. د کور بام به چې را ولوېده له خوشحالۍ به يې ورته ټوپونه اچول. ځوانانو به د کورونو لرگي او تيرې له غره هاخوا وړل، کوچنيان به هم په خپلو وړو او لړزاندو پښـو په غره ختل او ښـکته کېدل. مشرانو ته هم بله لاره پاتې نه وه، اړ شول چې ورسره کمک شي او بالاخره د غره هاخوا ته نوی کلی جوړ شو.

ټول گډېدل او سندرې يې ويلې، ډولونه او سورنۍ يې غږول، علي له خندا په ډکه خوله، د غره له سره کليوالو ته کتل او ويې ويل:

- له خپلو ليونيانو مو مه کړې! که هر څرنگه وي بيا هم زموږ دي.

او د خوښۍ او شوق دوې اوښکې يې له سترگو را وبهېدې.

***

# لومړنۍ میرمنه چې زه یې درک کړم

له هغې وروسته چې د یو بل په سلامتۍ مو وڅښل، په یو پېرېدونکي نظر یې را وکتل. زه د هیلۍ د بچیانو غوندې چې لا یې لامبو نه وي زده او په اوبو کې جیګ ټیټ کیږي، له وېرې ولړزېدم.

علت یې رو ښانه و ځکه تر هغې ورځې پورې ما د کومې دلبرې شونډې لا نه وې ښکل کړي او د پوخ عمره مېرمنو د لاسونو په ښکلولو مې بسنه کړې وه. ولې اوس نو پرې ورغلي وو او هغې د مچې غوښـــتنه کوله. له هیجانه مې نژدې زړه ودرېدلی و. که مې دا چانس له لاسـه وته نو بده وه، لاس یې را وړاندې کړ ښـکل مې کړ، په تمه وم چې را چیغه کړي چې اې سرېه! زه له هغو نه یم چې تا یې فکر کړی او په بوټ مې په دا سر ووهي خو داســې هیڅ ونشــول. ملګرې مې لکه یو بېحده خوند ته چې رسیدلې وي اسویلی یې وکېښ او ویې ویل:

- دا زما لپاره لویه نېکمرغي ده.
- زه له تا ډېر نېکمرغه یم.

کله مو چې پام شــو چې ګارســون را نژدې کیږي، ځانونه مو سره ســم کړل. ګارسون د اوبو بوتل راته په مېز کېښود. ما ګیلاسونه ډک کړل او ومې ویل:

- په سلامتۍ!
- په سلامتۍ!

هغې چې کله تش ګیلاس بېرته په مېز کېښود ویې ویل:

- تاســې بیخي لوی لیکوال یاســت، ســم لکه: چیخوف او موپاسان...

د ښځینه‌لو تاثیر یو خوا د هغې او د هغې ستاینو بلې خوا ته اړ کړم چې د اولین ځل لپاره مغرورانه خبره ونیسم او واویم:

- چیخوف او موپاسان د چا خره دي؟

په ارامۍ سره یې وویل:

- تاسې د نړۍ د تر ټولو لوی لیکوال بلزاک په شان یئ.

په نارامۍ مې مېز په سوک واوهه ومې ویل:

- بلزاک هم لیکوال دی چې ما ورسره پرتله کوې؟

- حق له تا سره دی گرانه، تا باید چې له شکسپېر سره پرتله کړو.

نور نو له تللې لارې نشوم راگرځېدلی. په هماغه مستۍ مې وویل:

- افسوس په تا سو چې ما نه درک کوئ او لا جدي جدي لگیا یئ چې شکسپېر سره مې پرتله کړئ.

او هماغه شراب مې په سر واړول.

- گرانه! ږښنه غواړم، زموږ په نړۍ کې دا سې څوک نشته چې تاسو سره یو شان وي.

- نو غوره نه ده چې ووایې: تر اوسه زما په شان لیکوال نه پیدا شوی دی او نه به پیدا شي؟

- زما نظر دا و چې شکسپېر ستاسو لیکوالۍ ته در نژدې و.

- وي دې، منم یې ځکه هغه هم څو کاله په انگلستان کې و او شاید زما لیکوالۍ ته لږ لږ را رسیدلی وي.

- ته له ټولو لوی یې.

نور نو سره ملگري شوي وو او د "تا سې" په ځای مو یو بل ته ''ته'' خطاب کاوه.

- سيي ده.
- حسن جانه! ته راباندې ګران یې.

له دې جملې سره سر داسې راباندې وچورلېد چې نژدې و له څوکۍ ولوېږم.

- ته زما پرښته یې!
- سل په سلو کې باور لرم چې نوبل جایزه به وګټې.
- خود نو! هغوی چې نوبل جایزه ګټي د هغوی څه ښکر شوي چې زه یې نلرم؟ زه به یې په یو ځل اخیستلو بسنه هم ونکړم او بیا بیا به یې واخلم.
- په هره خبره دې باور لرم ګرانه! له تا ځار شم!
- په ما هم ګرانه یې ثریا جانې!

دلته و چې لږ راپه حال شوم او ځان سره مې وویل چې له ډېرو کالونو وروسته چې یوه مېرمنه د سپي په سترګه لا نه را ګوري، څنګه راسره مینه ښکاره کوي؟ یا هم لکه چې فکر کوي اصلاً زه ائینې ته نه یم ودرېدلی. زه هر څه زغملی شم خو دا نه چې څوک مې د لیکوالۍ په خاطر غلط کړي. په همدې سوچونو کې وم چې ثریا له لاســه ونېوم، د دریاب غاړې چمن ته یې بوتلم او هلته یې کېنولم. زه نه پوهېدم چې څه وکړم؟ له دوســتانو او ملګرو مې ډېر څه اورېدلي و خو دا چې خپله مې کړي نه و، نو وېرېدم چې څه به ونکړم نو ځکه مې وویل:

- ګرانې که څوک مو په دې حال ووینې؟
- ودې ویني، زه له خدایه همدا غواړم چې سره ومو ویني. زه نن د نړۍ تر ټولو بهترینه مېرمنه یم.

له ځانه سره مې وویل:

- خدایه! تا ته مې پناه دروړې، یا زه ویده یم او یا خبر نه یم خو ښېښلی دې یم او جنت ته دې بیولی یم؛ ځکه د ځمکې په مخ دا سې څه امکان نلري.

د دې لپاره چې له هغه حالته راووځو نو ورته ومې ویل:

- ګراني لږ به ځانونه سره سم کړو هسې نه ګارسون راشي.
- را دې شي. خدای دې نکړي لکه چې زما کړنو خوند درنکړ؟

ثریا له دې خبرو سره ســمه په ژړا شــوه او هغه وخت زه په خپل حماقت پوه شوم، شک مې پرېښود او له ځان سره مې وویل:

- نو دا چې وايي د مئین ســترګې ړندې وي حقیقت لري. ثریا په ما مئینه شــوې ده او بې له دې چې زما بدرنګې څېرې ته وګوري د مینې اظهار کوي. البته ډېر اظهار یې زما د لیکوالۍ په خاطر دی خو په هغه مې هم ډېر باور نه کېده.

بیا مې ورته وویل:

- هغه څه چې مخکې دې راته وویل، رښتیا دې وویل؟
- کوم؟
- د شکسپیر څخه لوړوالی.
- نو په ما باور نلرې؟!

د ښکاک ګیلا سونه مو ډک کړل او په دا سې حال کې چې یو بل مو په غېږ کې سره نیولي وو د یو بل په سلامتۍ مو وڅښل. له څښلو وروسته مې له ځانه سره وویل: ولې باید د هغې په خبرو باور ونکړم؟ هغه خو له ما هیڅ نه غواړي. خو دلته مې بیا شـــک د زړه خونې ته لاره وکړه او له ځانه سره مې وویل چې زه هغه د ســپوږمۍ په رڼا کې ســمه نه وینم. یا معیوبه ده او یا بدرنګه ده چې زما سره د عاشقۍ لوبې کوي. د دې لپاره چې دا شک لیرې کړم نو میخانې ته ولاړم، په دې

بهانه چې سیګریټ اخلم. فکر مې دا و چې هلته یې د رڼا لاندې سمه ووینم، په رښتیا چې زړه وړونکې مېرمن وه.

ببرته په خپلو ځایونو کیناستو او په څښاک مو پیل وکړ. ثریا وویل:

- خدای خبر چې څومره ملګرې به لرې!
- زما په ژوند کې هیڅ مېرمن نشته.
- هسې انکار مه کوه.
- شته‌والی یې شته خو په ما ځان نه پوهوي.
- که ته یې درک کړې وای نو نه یې پرېښودې.
- سیي ده او له همدې امله ډېر نارامه یم.
- نه چې فکر وکړئ زه به هم لکه هغوی هسې یم؟
- دا څه وایې!!؟ تاسې یوازینۍ هغه مېرمنه یئ چې ما درک کوئ.
- هغوی تا د خپل شهرت لپاره غواړي خو زه تا د حسن والي لپاره غواړم. ښه اوس د هغو شېبو په هکله چې دې دغو مېرمنو سره تېرې کړي، یو څه راته واویه.
- هیله کوم په دې اړه مې مه پوښته چې له دې ملاقاته ډېره ګټه واخلو.
- نه کیږي! که درباندې ګرانه یم نو راته واویه.
- ډېر ښه! د هغو په هکله چې اوس تېرې دي او که اوس هم رواني دي؟
- هغه چې اوس هم رواني دي.
- یوه د طلایي وېښتانو مېرمن ده.
- میړه لري؟

- نه، کونډه ده. له هغې پرته دوې غنمرنګې مېرمنې هم دي.
- نورې؟
- یوه تور پوســتې مېرمن هم ده چې څو اونۍ وړاندې ورسره اشنا شوی یم خو چا ته و نه وایې.
- نوم یې څه دی؟
- مه کوه، نوم یې را باندې مه وایه.
- نو په ما باور نلرې؟
- نه کنه د باور خبره نه ده خو ...
- فکر کوې زه نه یم خبره، نوم یې شکران نه دی؟
- نه شکران مې پخوانۍ ملګرې وه، دا له هغې ډېره ډنګره ده.
- له دې پرته نورې ملګرې نلرې؟
- شته خو اوس یې نومونه رانه هېر شول.

ثریا په دې هم بسنه ونکړه او ټینګار یې کاوه چې هغه پېښې ورته واویم چې زما او دوی تر منځ راغلې دي. ومې لیدل چې بد ځای راګیر یم نو یو څو پېښې مې ورته وویلې. ثریا وروسته له دې کیسو په زوره زوره وژړل او راته یې وویل:

- حسن جانه! زه یوه کینه کښه مېرمن یم او له تا غواړم چې له دې وروسته دې یوازې زما وې.
- ژمنه ده چې له دې وروسته به یوازې ستا اوسم.

ما پرته له دې چې د هغې ژوند ترې وپوښــتم په خپله راته لګیا شــوه او ویې ویل:

- ما څلور ځله واده کړی دی او طلاق مې ترې اخیستی دی او تر اوسه لا د مینې تږې یم.

د هغې د ژوند کیســـه دومره دردوونکې وه چې ورته ومې ژړل. ثریا چې زما ژړا ولیده، راته ویې ویل:

- گرانه! ته لومړی سړی یې چې ما درک کوې.

هغه مې په غېږ کې ونیوه او او ښکې مو سره گډې شوې. گړی ته مې وکتل او ورته مې وویل:

- اوس یوه بجه ده او له نیمې گړۍ ډېر نیسي چې اورگاډي ته مې ورسېږم.

- اخ حسن جانه! رښتیا ځې؟

په دې وخت کې یو سړي په ثریا پسې غږ کړ. ثریا را وکتل او ویې ویل:

- لکه چې ماما مې دی او باید لاړ شو.

- ښه نو ته په استانبول کې اوسېږې؟

- په پیشیل کوی، کې.

- په دې نیمه شپه کې هلته ځې؟

- ما ما مې موټر لري، زامن یې هم ورسره دي. یوازې غواړم درته واویم چې له تا پرته مې نور ژوند نه کیږي.

- زما هم!

- ایا کولی شم په خبره دې باور وکړم؟

- هو.

- قسم وخوره.

- بې شرفه به یم که ...

- ومې منله.

- ته هم قسم وخوره.

- ستا په مرگ!

د ثریا ماما ورپسې ګرځېده خو موږ نشو کولی چې سره بېل شو.

- که تا له لاسه ورکړم نو ځان وژنه کوم.
- زه هم.
- چېرته دې ووینم؟
- په ملوریا پلاژ کې.
- څه وخت؟
- ۹ بجې په پلاژ کې اوسه، د جنت دروازې ته مخامخ.
- ډېر ښه.
- خو په تمه مې نکړې ګوره!

زه بد عادت لرم، کله چې ژاړم له اوښـکو مې ګرنګ ډېر بهیږي، کله مې چې غېږ کې ونېوله نو په اوښکو او ګرنګو مې ولړله او ورته مې وویل:

- ګرانې د خدای په امان ... د بیا لیدو په هیله.

ثریا یو لوی کور ته ولاړه او زه د اورګاډي تمځای ته روان شـوم. ومې نشـو کولی د پخواني وزیر سره مرکه وکړم خو په هغه حالت کې راته پخوانی او اوســنی وزیر یو شی وو. د ثریا مینې داسې اور راباندې بل کړی و چې ژر نه مړ کېده.

د اوښکو په ډکو سترګو د اورګاډي تمځای ته ورسېدم. لس دقیقې د اورګاډي تګ ته پاتې وې، په اورګاډي کې سپور شوم. څو دقیقې ورو سته اورګاډي دا سې غړ وکړ چې له خوب څخه په ټوپ را ویښ شوم.

***

# یوه ورځ به زموږ وار شي

په څلور لارې کې د ستنې اچولو ځای نشته. دومره ګڼه ګوڼه ده چې سپی او سړی نه سره پېژني. خلک د یو بل په سر او پښو خیژي. په ټکسي کې د سپرېدو لپاره که د سلو کسانو په لاسونو او پښو ور وخیژي اهمیت نه ورکوي. کله چې یوه ټیکسي له لارې را ورسیږي خلک لکه د سلماتور لښکر داسې پرې ور مات شي. په زاریو او غوښت ورته وایي: مخامخ ځې؟ بېرته ګرځې؟ فلاني سړک ته ځې؟

ټیکسي چلوونکی ان ته به وایې له ټولو شرمیږي چې هو یا نه ورته ووایي. یوه له ملنډو ډکه موسکا کوي او داسې ښکاري لکه یوې لویې هیلې ته چې رسیدلی وي. یو ښه چانس په ګوتو ورغلی دی چې زړه په بېوزلو مسافرو تش کړي.

زه د ټیکسي چلوونکي غږ ښه اورم چې ځان سره وایي:

اخ! زړه مې یخ شو.

ښاغلیه ماموره! لکه چې ته نه وې چې زه دې د مېز شا ته ودرولی وم، مقام دې راټیټېده چې یو ځل دې سر راپورته کړی وای او را کتلي دې وای چې څه کار لرم؟ اوس دې سترګې ووځه! ولاړ اوسه! دغه د هغه غچ!

ته بې انصافه سوداګر په کوم مخ راغلی یې چې ټیکسي ته پورته شې؟ یاد دې دي چې د ټایر یو ربړ دې په یو زر او پنځه‌سوه راباندې خرڅ کړ؟ اوس زما وار دی چې جبران یې کړم. دومره ولاړ اوسه چې تر پښو لاندې دې ځمکه شنه شي.

اوهو! ته زموږ د محلې ډوډۍ پخوونکي ته وګوره چې ټیکسۍ ته په تمه دی. حال دې ځنګه دی؟ یاد دې دي چې دوو وچو ډوډیو ته دې څومره په قطار کې ودرولم؟

اوس نو ته هم صــبر وکړه چې خوند یې وڅکې، لکه ســپی تر ســبا منډې وهه او ټیکــسي به هم پیدا نکړې. مشــرانو څه ښه ویلي دي چې بدله لري، ګیله نلري. لکه چې نه پوهیدې یوه ورځ به زموږ وار شي؟

مامور صـېب ته ډېر خلک راټول شـوي دي او په تمه دي چې ښـاغلی جناب عالي یو نظر د دوی اسنادو ته هم وکړي خو ښاغلی مامور بې له دې چې یو ته هم وګوري په خپل کار لګیا دی. مراجعین په سوال او زاریو وایي:

- جناب عالي!
- دا د بنده دوسیه ده!
- زما سند یوازې یو لاسلیک غواړي!

مامور لکه کوڼ اصـلاً ته وا د مراجعینو غږ نه اوري تر څو ځواب هم ورکړي. یوه له ملنډو ډکه موسکا یې په مخ خپره ده. ښـکاري چې د چا ځواب ورکوي او له ځانه سره پټ وایي: اخ! زړه مې یخ شـــو. د همدغې ورځې په تمه وم. دا په کوم کتاب کې راغلي چې زه دې له سهاره تر ماذدیګره پورې په وخوره مه مره تنخوا کار وکړم او تاسې دې ازاد وګرځئ او پیسې وګټئ؟ اوس زما وار دی، دومره ولاړ اوسئ چې ساه مو وخیژي.

په پلورنځي کې د خلکو ګڼه ګوڼه ده.. ټول سره خبرې کوي؛ دا شی لرې؟ د دغه بیه څو ده؟

د پلورنځي څښـــتن خندا په خوله، خپل سر ګروي او د پلورنځي په حســـاب کتاب لګیا دی. دی هم د مالیې او ښاروالۍ له مامورینو ډک زړه دلته په پېرېدونکو باندې تشوي او له ځانه سره وایي: دغه د هغه غچ!

پولیس یو غل نیولی دی او په کشولو کشولو یې قومندانۍ ته بیایي، البته دا د هغه دنده ده خو دا چې ولې یې دومره سپکوي او زهیروي، علت یې ښکاره نه دی. د پولیس له بنې ښکاري چې دا دنده ډېره خوند ورکوي، د شونډو منځ کې غلي وايي: که تاسې بې شرفان! غلا ونکړئ موږ به هم اړ نه یو چې شوګیرې وکړو او له شپې تر سهاره په کوڅو کې پیرې وکړو. اوس نو زما وار دی چې در ویې ښیم چې غلا څنګه خوند لري!؟

په دې بې انصافه نړۍ کې هر څوک د چانس په لټه کې دی چې خپل ډک زړه په بل چا تش کړي. که ښه غوږ ونیسئ ډېر غږونه به واورئ چې پټ دي. د ګوند والا غږ به واورئ چې وايي: اخ!... زړه مو یخ شو... اوس زموږ وار دی چې د اپوزیسیون پوزه په ځمکه ومښو.

د هغوی د مخالفینو یا اپوزیسیون غږ به واورئ چې وايي: یوه ورځ به بیا زموږ وار شي، داسې بلا به دربانديې را نازله کړو چې په سترګو مو نړۍ توره تیاره شي.

لوی او کوچني، نارینه او ښځینه، لوستی او نالوستی، لنډه دا چې ټول خلک، سوداګر او ټکټ پلورونکی، ټول یې په کمین کې دي تر څو د دوی نوبت شي چې زړه یخ کړي. ټولو غاښونه تېره کړي چې هغه سپکاوی او زهیربدل چې له نورو یې لیدلي او زغملي دي په نورو ور تش او خالي کړي. که داسې نه وای زموږ کړه وړه او سلوک به دومره له دښمنۍ ډک نه و.

***

## دغه غږيدلی رښتيا ګله ليکوال ته ورته دی؟

دومره ستړی او زړه نېولی وم چې بې له کوم کار او چارې څخه له کوره را ووتم. په دا سې حال کې نو ځان ډېر ووړ او ناڅيزه احسا سوم چې ته وا هيڅ وجود نه لرم. د هوا فشار مې له پاسه او د ځمکې جاذبه مې له ښکته ډېر ځوروي.

له خپلې کوڅې څخه تېرېدم چې ګورم دوه کسان مخامخ راروان دي، کله چې سره مخامخ شوو نو يو يې ودرېد او پوښتنه يې وکړه:

- ښاغليه، ببښنه غواړم، تاسو ښاغلی حسن، ليکوال نه يئ؟

- هو!

ډېر په مينه او شوق يې دواړه لاسونه را وړاندې کړل او ويې ويل:

- ستا سو په زيارت سخت خو شحاله شوم. زموږ د کورنۍ ټول غړي ستاسو ليکنې خوښوي، څه ښکلې او خوږې ليکنې کوې.

ما هم په ډېر شوق سره لاس ورکړ او موسکی شوم. هغه زما د ليکنو په ستاينه نه مړېده او ما هم له هرې ستاينې سره باد اخيسته، ټيټه ونه مې لوړېده او لوېېدم. د شرميدونکو سړيو غوندې مې مننه وکړه، سره بېل شو او په خپلو خپلو لارو روان شوو. اوس نو سرچپه، د ټاير د ټوپ په شان مې ځان راکښوه او وړه. په خوښۍ سره مې ګامونه اخيستل ځکه چې ځمکه، هوا او خلک ټول راته ښايسته او ګران ښکارېدل. کله چې له کوڅې تېر او سړک ته ورسېدم، يوې ځوانې جوړې سره مخ شوم. ښاغلي زه خپلې مېرمنې ته ور وپېژندم او ويې ويل:

- هې! هغه دی ليکوال حسن! تا ويل چې کاش يو ځل خو يې ووينم!

د سترگو لاندې مې دوی ته وکتل. مېرمنې په ليوالو سترگو او جادويي خندا سره په ځير ځير راته کتل. له څنگه يې تېرېدم نو دواړو ډېر په شوق سره راته سلام وکړ. له ډېر شوق او هيجان څخه مې ا صلاً ځواب ن شو ورکولی نو د سر په ا شاره مې سـلام ورځواب کړ. فکر مې کاوه و نه مې لوړېږي او وزن مې دغسې پسې ډېرېږي ډېرېږي. د بس تمځای ته چې ورسېدم يوه جلکۍ رامخته شوه او ويې ويل:

- که خطا شوې نه وم نو تاسې گران او محبوب ليکوال ښاغلی حسن يئ؟!

د سر په اشاره مې هو ورته وويل. جلکۍ له ډېر هيجان او شوقه وويل:

- په آسمان مې لټولې او په ځمکه مې پيدا کړې!

شرميندوک مې وويل:

- منندوی يم.

جلکۍ وويل:

- په رښتيا چې ډېر ښه ليکل کوئ! زه مو ټولې ليکنې لولم.
- ډېر منندوی يم، مهربانه يئ.

د جلکۍ له خبرو وروسته نو ځان راته د آسمان په ورېځو کې روان ښکارېده. د جلکۍ خبرې يو څو نورو هم واورېدې، بس لاين کې شاته شول او له ما يې وغوښتل چې مخکې شم چې وخت مې ضايع نشي.

په بس کې راته د لومړي سيټ ناست ځوان هم خولۍ د درناوي په پار له سره ايسته کړه. سلام يې راته وکړ او خپل ځای يې ما ته پرېښود. دومره د غرور او لويۍ احساس مې کاوه چې شاوخوا راته تنگه ښکاره شوه. بيا بيا څوکۍ کې ښورېدم راښورېدم. په زړه کې مې ويل چې د بس چت ولې دومره وړوکی جوړوي؟

هغه ځوان چې خپل ځای يې ما ته راکړی و، راته وويل:

- زه مو یو له مینه‌والو یم.

ځان مې له شرمه سره راټول کړ او ومې وې:

- هیله کوم.

ځوان وویل:

- زموږ د کور ټول غړي ستاسې لیکنې خوښوي.
- مهربانه یاست.

یو بل مسافر وویل:

- بنده هم ســتاســو د لیدلو په تمه و، بخت مې بیدار و په بس کې مې ولیدئ.

کم پاتې وو له بس مې سر پورته ووځي!!

غوښــتل مې بس کې (کاري کوئ) ته لاړ شــم خو دا چې بس ډېر تنګ و په لاره یوه تمځای کې ښکته شوم. غوټه مې کړه چې راځه نوره لاره به ټیکـــسي کې ولاړ شم. په تمځای کې ټیکســي ته په تمه وم چې یو کس را مخکې شو او ویې ویل:

- تاسې ښاغلی حسن، لیکوال یئ؟
- هو
- نو نه یم تېروتلی. ډېر خوښ شوم چې تاسې مې ولیدئ.

زړه مې و چې مننه ترې وکړم خو دومره سره پړسـیدلی وم چې خوله مې نشـوه خلاصولی.

په ټیکسي کې سپور شوم او ساحل ته روان شوم. نوره لاره مې باید په کښتۍ کې وهلې وای. ساحل ډېر راته وړوکی ښکاره شو. د ټکټ خرڅولو غرفې ته ورغلم، دوو درې کسانو یو بل ته سره ور وښودلم او ویې ویل:

- وګوره! حسن لیکوال ځي.

- رښتیا وایې .. په خپله دی؟

- هو

نیږدې و چې سره وچووم. ښـی لاس مې په شـونډو کېښـود. تاسـې به فکر کړی وي چې د څه لپاره؟ غوښتل مې بربېتونه تاو کړم خو هی چې بربېتونه نلرم.

دا چې وایي سـړی باید بربېتونه ولري دغسـې وخت لپاره وایي. ځان سره مې ژمنه وکړه چې له دې وروســته بربېتونه اوږده کړم. بربېتونه په دغســې وخت کې د سړي ډېر پکاریږي. ټکټ پلورونکي پیسې نه اخیستې:

- نه کیږي، له دې په وطن ډېر حق لرئ.

په قطار کې هم ځینو کسـانو پېژندم او زه یې اول سر ته راوسـتم. دومره لوی شوی وم چې نژدې وو له کښتۍ رارسېدو مخکې له ساحل څخه ور ټوپ کړم.

کله چې کښتۍ ته ور پورته شوم نو دا سې مې حس کړه چې کښتۍ سره یو بل ډول شوه!!

د کښــتۍ تل زما د دروند وزن له امله ترق تروق وکړ. البته په دې یوازې زه پوهېدم... د نورو ورته هیڅ پام نه و. ټولو خلکو یو بل ته ور ښــودلم او ورو ورو له خپل شــهرته په تنګ شـوم. نا ارامه په څوکۍ کې کېناســتم. دا څوکۍ یې دومره وړې وړې جوړې کړې چې باید په زور ځان پکې ځای کړې. کښــتۍ حرکت وکړ. ټولو ما ته کتل. باید راته وګوري. آخر په دې هېواد کې څو دانې لوی او مشــهور لیکوالان دي؟ پرېږده چې را وګوري او خپل ګران لیکوال (حسن) وپیژني.

دوو دریو کســانو مې تر شــا راپســې خبرې کولې. آرام او ورو مې سر ور وګرځاوه. څلور پنځو کسانو زما په اړه خبرې کولې. یو له ځوانانو وپوښتل:

- کوم یو حسن لیکوال دی؟

- پلاره! همدا چې زموږ تر مخ ناست دی.

- د دې غژیدلي (کښ شوي) ربړ کوم ځای د لیکوال دی؟

- ته ومرې همدا خپله دی.
- نه، امکان نلري.

یوې مېرمنې په ریشخند وویل:

- ټوکې کوي.

د دغو فلان دامان کړم! زما کوم ځای لیکوال ته نه دی ورته؟!

په دوی ټولو کې یو ځوان و چې زما دفاع یې کوله او کوښښ یې کاوه چې ثابته کړي زه هماغه مشهور لیکوال یم. نورو نه منله ویل دا امکان نلري.

هغه هوا چې لږ وړاندې مې له ستاینو اخیستې وه ورو ورو راڅخه وته. آشنا ځوان غوښتل چې په زرو قسمونو او آیتونو سره یې ثابته کړي:

- ستاسو ټولو په سر قسم چې خپله دی.

یو خراب او بې سوره غږ ځواب ورکړ:

- وروره! دا نیکه خپل پرتوګانښ نشي ـ تړلی، هغه اورنۍ لیکنې به څنګه ولیکي؟!

داسې خولې مې کړې وې چې غوښتل مې ګرېوان مې وشکوم. کوښښ مې کاوه چې په خپله څوکۍ کې لا ننوځم چې شاوخوا خلکو څخه پټ شم. ورو ورو مې وویل:

- ولې یې د کښتۍ دا څوکۍ دومره لویې جوړې کړې؟!

آشنا ځوان په ګرمۍ وویل:

- زه تیار یم چې شرط ووهم چې دا ښاغلی هماغه مشهور لیکوال دی.

یوې مېرمنې په ملنډو وویل:

- دې ته مه وایه چې ښاغی، د مالونو خرڅولو په میداني کې بار وړونکي پنډیان له ده ډېر ښاغلي دي. د ده دا کېناستل وګوره ...

هیڅ یې د ناســتي طریقه لا نه ده زده. څنګه امکان لري چې مشـــهور لیکوال وي.

- ورورکیه! زه باور لرم چې په خپله دی. باور وکړه!
- هیڅ باور نه کوم. ګوره بل څوک به یې ورته لیکي.

د کښـتۍ غولی دومره لوی شـوی و چې نه مې شـول کولی پای یې ووینم!! غوښــتل مې پورته شــم او بل ځای ته لاړ شــم خو وېرېدم چې خبره نوره هم و نه شـړیږي. هیڅ نه پوهېدم چې کوم خارښـت راپورې و چې له کوره را ووتم. هوا مې ورو ورو وتله او لړ پاتې و چې ورک شــم. خدای خدای مې کول چې ژر کښــتۍ ورسیږي تر څو ښکته شم او له دې غمه خلاص شم.

د ځوانانو خنداګانې مې په زړګي نېغې ننوتلې او د دوی له ملنډو ډکو خبرو مې غوږونه ځورول.

- دا نیکه لا د دې لایق نه دی چې د حســن لیکوال قلم کې رنګ واچوي.
- که باور کوئ او که نه کوئ دا خپله حسن دی.

یوې بلې مېرمنې ویل:

- دا یارو باید په ژوبڼ یا ننداړتون کې ننداړې ته کیږدي.

سـېګرېټ مې چې له نارامۍ مې بل کړی و، له لاسـه ولوېد. غوښـتل مې بل سیګریټ بل کړم خو لاسونه مې داسې لړزېدل چې اورلګیت هم را نه ولوېد. خدایه لاره څومره اوږده شوه! کښتۍ به کله لنګر اچوي!

زما پلوي ځوان یې له ملګرو وپوښتل:

- تاسو حسن لیکوال لیدلی دی؟
- نه، نه مو دی لیدلی.
- نو چې نه مو دی لیدلی ولې وایئ چې دا نه دی.

بې آهنګه غږ وویل:

- خدای انسـان ته عقل ورکړی ... ته دغه نیکه ته وګوره خندا به دې ورته راشي او ته لا ټینګار کوې چې همدا حسن لیکوال دی.

- ښه شرط ولې نه تړې؟

- په څه یې تړې؟

- په څه چې دې خوښه وي.

- په پنځو لیرو.

- پنځه لیرې کمې دي. په لسو لیرو به یې وتړو.

- سل لیرې دې وي، سمه ده؟

- هو، سمه ده.

- ښه څنګه به پوه شو چې خپله دی او که نه؟

آشنا ځوان ورته وویل :

- هیڅ خو ورځو او ترې پوښتو.

- که خپله هم واویي زه یې نه منم، هر څوک به وایي نو چې زه حسن لیکوال یم.

- هیله به ترې وکړو چې خپله یوه لیکنه راته ولولي.

- دغسې سمه ده.

وای خدایه! اوس به څنګه کوم؟ که راشي پوښـــتنه وکړي چې ته لیکوال حسن یې که نه؟ څه ځواب ورکړم؟ که واویم: هو. یعنې ټولې کنځلې مې یې منلي دي او که واویم خطا شـــوي یئ نو یوازینی ځوان چې زما پلوي یې کړې، تاوان ویني.

په عجیبه ستونزه واو ښتم. نه پوهېدم چې څه وکړم. کا شکې نه وای لیکوال شوی او دومره ستونزې مې ځانته نه وای جوړې کړې. ځوانان راپورته شول او زما

په لور راغلل، چې د دوی د پښو کښا مې واورېده ناڅاپه له خپل ځایه پورته شوم او د کښتۍ بهر سالون ته مې منډه کړه.

بې له دې چې د ځوانانو غږونو ته چې ما ته یې کول، پام وکړم. ځان ته مې لاره لټوله چې ژر ساحل ته ورسېږم. د کښتۍ او د سینډغاړې ترمنځ شاوخوا څلور متره فاصله وه. زه په یو ټوپ له کښتۍ د ساحل په لور والوتم او له بده مرغه د ښاروالۍ د مامور په غېږ کې ولوېدم. د ښاروالۍ مامور هم ښاروالۍ ته بوتلم.

ښاروال وویل:

- تاسې له کښتۍ څخه ساحل ته ټوپ اچولی دی، باید شل لیرې ناغه ورکړئ.

سمدستي مې له جېبه دوه لس لیره‌یي نوټونه را ووېېستل او ور مې کړل تر څو ژر له هغه ځایه ووځم. د ښاروالۍ مامور مې مخه ونېوه او ویې ویل:

- مهرباني وکړئ څو دقیقې صبر وکړئ تر څو د پیسو رسید دې درکړم... نوم دې څه دی؟

مخ مې ورواړوه، دا احمق څوک و چې زه یې نه پېژندم. مامور بیا وویل:

- نوم دې څه دی؟
- زما نوم؟
- هو... ستا نوم.
- زما نوم علي.
- کورنۍ نوم دې څه دی؟
- زما کورنۍ نوم خوش باوره.

رسید مې ترې واخیست او روان شوم. له شا مې د ښاروالۍ مامور غږ واورېد:

- دا یارو څومره حسن لیکوال ته ورته دی!

- نه مړه! هغه چیرې او دا چیرې. دا ســړی خدای خبر له کوم لیونتون راتښتیدلی دی.

په دې حالت کې مې دومره ځان ووړ او کوچنی احســاســوه چې ما ویل هیڅ وجود نلرم.

له پاسه د هوا فشار او له ښکته د ځمکې د جاذبې قوه ما ډېر ځوروي!!

***

**پای**

## له خپلو لیونیو مو مه کړې!

خپل کور څخه يې خورجين او شپېلۍ راواخيستل او له کلي لاړ.

يـوه ورځ پـه يـوه کلي ورپېښ شـو. ګـوري چې پـه کلي کې غوغـا ده. علي ترې وپوښتل:

ـ څه شوي ښاغليو؟

ـ د غـوا سـر پـه کټوه کې بند شـوی دی، هر څومره کوښـښ چې کوو بې ګټې دی.

ـ پوه ملا ته به ورشو چې څه وايي.

- ملا ستا لمن مو نيولې ده څه وکړو؟

ـ د غوا سر پرې کړئ! خلاص به شي!

کليوالـو بـې لـه ځنـډه د غـوا سر پـرې کړ خو د غـوا سر لا هم پـه کټوه کې بند و.

ـ دا خو خلاص نشو.

ـ کټوه ماته کړئ، خلاص به شي!



د خپرېدلو ځای
www.sikaraam.com